# د یوناما خبری کنفرانس

د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱ – ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پاڼه: www.unama.unmissions.org

## رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

**علیم صدیق، د یوناما ویاند،**

**نظیف الله سالارزی د یوناما د ویاند د دفتر څخه،**

*کابل- دوشنبه د می د میاشتی ۱۱ نیټه، کال ۲۰۰۹*

## د نوم لیکنې دوره د ټول ټاکنو لپاره پای ته ورسیده

لکه څنګه چې تاسې په خبر یاست د دې کال د ولسمشریزو او د ولایتي شوراګانو د ټول ټاکنو لپاره د نومونې موده پای ته ورسیدله. د ټاکنو خپلواک کمیسیون موږ ته معلومات ورکړ چې د ولسمشریزو ټاکنو لپاره ۴۴ نوماندو نومونه ثبت کړی دي او د ولایتي شوراګانو لپاره ۳۳۲۴ تنو نوماندو نومونه لیکلی دي چې له دې جملې څخه ۳۴۲ تنه یې ښځې دي. د ښځو شمیره د پخوانیو ټاکنو په پرتله ۲۰ تنه زیاتې ښیي. دغه رقم هڅوونکي دي او څرګندوي چې افغان میرمنې د دې ډیره لیوالتیا لري چې د دې ملک د راتلونکی په ټاکلو کې خپله ونډه زیاته کړي.

اوس چې د نوماندۍ موده پای ته ورسیده، افغانان د دې فرصت لري چې نوماندان له نظره تېر کړي او انتخاب وکړي چې څوک د دوي او په مجموع کې د دې ملک له ګټو څخه په ښه ډول استازیتوب کولای شي. موږ په دې ټینګار کوو چې افغانان باید خپل نوماندان بې له ویرې او په بې طرفه توګه وټاکي.

یوناما به دغه ټاکنې له نږدې تعقیب کړي او د هغه کمپاین څارنه به وکړي چې د افغانانو بنیادي سیاسي حقونو ته احترام کول تضمینوي.

افغانان دې ته هم اړتیا لري چې د دې ټاکنو په شفافیت او اعتبار کې خپله ونډه واخلي. موږ له افغانانو څخه غواړو چې بیدار و اوسي او د ټولو هغو هڅو مخه ونیسي چې د دوي دیموکراتیک حقونه تر پښو لاندې کوي او د داسې هڅو راپور د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ته ورکړي.

## د افغانستان په اړه د سیمه ایزو اقتصادي همکاریو کنفرانس

د افغانستان په اړه د منطقوي اقتصادي همکاري دریم کنفرانس به په اسلام اباد کې د مې ۱۳- ۱۴ پورې جوړ شي. په کنفرانس کې له ۴۰ څخه د زیاتو ملکونو او نړیوالو سازمانونو استازي ګډون کوي، چې منطقوي اقتصادي همکاري ته وده ورکړي، د نیستی کچه راټیټه کړي، د پرمختګ هڅې ګړندۍ کړي او په خپلو کې اړیکې قوي کړي تر څو ثبات منځ ته راشي. کنفرانس به په دې لاندنیو بنیادي ساحو باندې تاکید وکړي: انرژي او بنیادي ساختارونه ، د ملکونو او منطقو تر منځ بهرني تجارت او د ترانزیت د لارو مسالې روغتیا، کارګري خوځښتونه او د بشري سرچینو پرمختګ او د ماینونو کارول

د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړی استازی کای آیده به په دې کنفرانس کې ګډون وکړي. له ده سره به د پرمختګ او سیاسي چارو په برخه کې د هغه مشران سلاکاران هم موجودوي چې په دې ټولو مهمو برخو کې همکاري نوره هم زیاته شي.

## له ګاونډي هیواد پاکستان څخه لږ شمیر خلک راګرځیدلی دی، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري

د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري په تېره میاشت کې ۱۲۷۰۰ کډوال ثبت کړی چې بیرته افغانستان ته ستانه شوې دي. دغه ستنېدنه له پاکستان څخه په خپله خوښه د راستنېدو د پروګرام په ترڅ کې شوې ده. یوه میاشت مخکې دغه پروګرام پیل شو او دغه رقم تر هغې شمیرې څخه کم دی چې په تېر کال کې د همدې مودې لپاره ثبت شوې دی.

د پاکستان په صوبه سرحد کې د روانو پرمختګونو له امله کیدای شي په څو راتلونکو اونیو کې د راستنیدونکو کسانو شمیري زیاتی شي.له پاکستان څخه د راستنیدونکو کسانو ورځنی شمیرې مخ پر زیاتیدو دی او د بیا راستنیدنې څو لومړنی اونی په ټولیز ډول کمزوری وی.

د ژمي د څو میاشتو د دوران په ترڅ کې له پاکستان څخه د راستنیدونکو کسانو لړۍ د اپریل د میاشتې په لومړۍ نېټه له سره پیل شوه.

د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري د نظارتی راپورونو په حواله، تر اوسه پورې د ۱۲،۷۰۰ راستنیدونکو له جملې څخه ۷۲ سلینه د صوبه سرحد څخه، ۱۰ سلینه د سند د صوبې او پاتي ۹ سلینه د پنجاب له صوبې څخه دي.

د تیر کال د ستنیدونو په پرتله، سږ کال د سند او پنجاب د ولایتونو څخه زیات شیمر کسان د بې کاري او د ګراني (قیمتي) له امله پریشودو ته اړ شوي دي.

تیر کال په عین وخت کې نږدې ۶۷،۰۵۰ کسان هیواد ته ستانه شوي وو د دې له جملې څخه ۶۲،۲۶۱ د سرحد د ولایت، نږدې ۲،۵۶۱ د سند او پنجاب د ولایتونو څخه ستانه شوی، همدارنګه دا شمیري د سند او پنجاب د ولایتونو څخه په ترتیب سره یو او دوه سلینه جوړوي. نورو کسانو بیا د سرحد د ولایت د امنیتی دلایلو په خاطر پریښي دی

## دایاک ته وسلي وسپارل شوې

په داسی حال کی چې موږ ستاسو سره خبری کوو، د کاپیسا د ولایت په مرکز کې د ډایاګ پروګرام ته ۱۴۴ ډول ډول سپکې وسلې سپارل شوي دي. د دې وسلو له جملې څخه نږدې ۵۹ میله وسلې د کاپیسا د ولایت د نجراب د ولسوالی د ۵ ناقانونه پوځي ډلو څخه تر لاسه شوې دي.

پاتي ۸۵ میله وسلي د افغان ملي پولیسو، ملي امنیت، د تروریزم په وړاندې د مبارزې د ریاست له خو ضبط شوې دي. د دې وسلو د سپارلو سره به دغه ولسوالی په رسمي توګه د سولې د ولسوالی په نوم ونوموله شي.

## د اپریل د میاشتي لپاره د نړیوال خوراکي پروګرام د خوراکي توکو ویش

د بلخ ولایت د چمتال او نهر شاهي او د هرات ولایت د غوریانو د ولسوالی د سیلاب ځپلو سیمو د ۲۰۰۰ څخه زیاتو کورنیو لپاره د خوراکي توکو د بیړنیو مرستو نږدې ۳۰۰ ټنه خوراکي توکي ویشل شوی دی.

په اپریل کې، د خوراک نړیوال پروګرام د کار په بدل کې د خوراکي توکو د ویش له لارې د نږدې ۵۱۲۸۰۰ کسانو او د نری رنځ د ۵۴۰۰۰ ناروغانو او د هغوي د کورنیو سره د خوراکي توکو د عادي ویش د پروګرام له لارې د نږدې ۵۲۵،۰۰۰ کسانو او په ښوونځیو کې نږدې ۵۵۷،۵۷۰ ماشومانو د نړیوال خوراکي پروګرام مرستې تر لاسه کړې دي.

نړیوال خوراکي پروګرام په پام کې لري چې د ۲۰۰۹ کال په اوږدو کې د ۸،۸ میلیونو وګړو سره په افغانستان کې مرسته وکړي.

د وروستنی میاشتي تازه ارقام د څنګ په میز دي. نړیوال خوراکي پروګرام ویاند نن ورځ دلته دی او د دې مطبوعاتي کنفرانس وروسته به وکړای شي چې ستاسې پوښتنو ته ځواب ووایي او یا هم مرکه وکړي.

## د هیواد په کچه د سیلابونو په اړه معلومات

ولایتي او نړیوال فعالین پلان لري چې د کلیوالو تولنو په کچه د آسانتیاوو د مرکزونو رغونه ترسره کړي او د خوراکي موادو او د څارویو لپاره بوس او وابنه هغو سیمو کې برابر کړي چې د هیواد په شمال او ختیځ کې د سیلابونو له امله اغیزمن شوی دي.
د یوناما د بشردوستانه مرستو څانګې د راپور له مخې اوسنیو سیلابونو، د ځمکې ښوییدنو او برف کوچونو (راښي) د ډیرو مړینو لامل شول، او د لومړنی ناوړه پیښې او ناورین وروسته یې داسې تاوانونه راوستي دي چې دا د افغانانو ژوند اغیزمن کولای شي.

په بغلان کې نږدې ۳۰۰ کورونه، ۲۰۰ څاګانې، ۲۳۰ جریبه کرل شوې کروندې په بشپړه توګه له منځه تللي دي. په کندز کې د ۲۰۰۰۰ څخه تر ۲۵۰۰۰ کورنیو پورې اغیزمني شوې دي. په تخار او بدخشان کې ۳۱

کسان ووژل شول. په ټولو دغو ولایتونو کې سړکونه، پلونه او کرنیزې ځمکې په جدي توګه زیانمنې شوې دي.

د ملګرو ملتونو موسسې او غیر دولتي موسسې د افغان دولت سره یو ځای داسې پلان لري چې د ښنباک پاکو اوبو او روغتیایي مرکزونو ته رسیدنه وي او همدارنګه د خوراکي توکو موسسې او موقتي پناه ځایونه، کمپلې او کالي هلته چمتو کړي.

## پوښتنې او ځوابونه

**رادیو آزادی:** زه غواړم ستاسو څخه واورم، ایا تاسو فکر کوئ چې په افغانستان کې د تروریزم په وړاندې هوایي بریدونه یوه اغیزناکه لاره ده؟ آیا یوناما د دغو هوایي بریدونو د دوام چې په دې هیواد کې د ډیرو ملکي کسانو د وژنې باعث ګرځې ملاتړ کوي؟

**یوناما:** لومړی اجازه راکړئ په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کورنۍ له خوا د هغو کسانود مړینې په اړه چې په دې پیښه کې یې خپل ژوند له لاسه ورکړی د خواخوږۍ او د خواشینې مراتب وړاندې کړم. لکه څنګه چې د ملکي کسانو د تلفاتو شمیر نا څرګند دی خو دا ښکاره ده چې یو شمیر کسان ترې تم شوی دي. هر څوک چې د دغو مړینو باعث شوي باید مسوول وګڼل شي. موږ تل دا جوته کړې ده چې د هر ډول نظامي عملیاتو د پلې کولو او پلان کولو په برخه کې د افغانانو خوندیتوب او سوکالي تر هر څه د مخه راشي.

تاسو ښایي خبر تر لاسه کړي وي چې په اوس حال کې یوه ګډه ارزونه لارې ته اچوله شوې خو موږ باید د هر ډول قضاوت نیولو څخه وړاندې د څیړنو د بشپړیدو انتظار وباسو. زموږ یوازینۍ اندیښنه اوس د قربانیانو او د هغوی د کورنیو سوکالی ده. د هوایي بریدونو په اړه ستاسو د پوښتنې په اړه باید وویل شي، که تاسو د امنیت شورا د عمومي منشي پخواني راپورونه په یاد کړئ، هلته ویل شوي چې هغه ملکی تلفات چې د نړیوالو ځواکونو د عملیات په ترڅ کی را منځ ته کیږي ډیری برخی یې د هوایي بریدونو په نتیجه کی دي. لکه څنګه چې ملګري ملتونه په داسې یوه وضعیت کې قرار نه لري څو پوځ ته د تاکتیکونو په اړه مشورې ورکړي، خو موږ د پلان د پلې کولو په برخه کې دا جوته کړې ده چې د ملکي کسانو سوکالي باید په لومړیتوب کې راشي.

په دې اړه موږ د متحده ایالاتو د پوځ د وروستیو تبصرو ستاینه کوو، ښکاري چې هغوي به د خپلو تاکتیکونو د بدلون په اړه له سره کتنه وکړي څو ډاډ حاصل شي چې د افغانستان د ملاتړ او د افغان وګړو لپاره د نړیوالو هڅو ستراتیژیکي موخې د خطر په معرض کې وا نه چوي.

**سبا تلویزیون:** دا پوښتنه د امریکا د هوایي بریدونو د ملکي تلفاتو په اړه ده. افغان ولسمشر وویل چې باید هوایي بریدونه ودرول شي. غواړم د هوایي بریدونو په اړه د یوناما موقف معلوم کړم، آیا کیدای شي د تروریزم په وړاندې د مبارزې په هکله بله لار خپله شي؟

**یوناما:** اجازه راکړئ په دې اړه روښنایي واچوم، بې له شکه موږ ټول په افغانستان کې د خلکو د ملاتړ لپاره کار کوو او باید د افغانانو د سوکالي څخه ملاتړ وکړو. په اوس حال کې د ګډ نظارت تر ټولو مهمه برخه دا ده څو د تاکتیکونو او همدارنګه د عملیاتو د پلانولو او پلې کولو په اړه ارزونې ترسره کړو. دا به د څیړنو د ټیم لپاره په زړه پورې وي چې تاکتیکونه وڅیړي او همدارنګه معلوم کړي چې د دغو بریدونو تاثیرات په خلکو څه دي. د پوځي ځواکونو سره د خبرو په ترڅ کې هغوي ته دا ویل شوي دي چې د ملکي کسانو تلفات د نه منلو وړ دي او همدارنګه د ملکي کسانو د ساتلو لپاره باید له هرې وسیلې څخه کار واخیستل شي.

**کلید ګروپ:** د نوماندو له جملې څخه یو تن چې په جنګي جرمونو تورن دی. آیا یوناما د داسې نوماندو په باب اندیښنه لرئ؟

**یوناما:** لکه څنګه چې تاسي ته یاده ده موږ د دې مسالې په باب په څو ځله خپل نظریات څرګند کړي دي او غواړم چې بیا هم تاسو ته یادونه وکړو چې ځانګړی استازی په دی اړه ټینګار کړي دی چې د افغانستان خلک په خپله باید فیصله وکړي هغه چا ته رایه ورکړي چې وکولای شي په ښه ډول له دوي څخه استازیتوب

وکړي. دا د افغانستان د خلکو فیصله ده چې دوي څه قضاوت کوي او چاته رایه ورکوي چې ملک د ترقي او پرمختګ په لوری سوق کړي.

د نوماندو د مشروعیت مسله داسې څه شی نه دی چې ملګري ملتونه یا نړیواله ټولنه د هغه په اړه څه تبصره وکړي. د ټاکنو په باب باید ووایم چې نوماندې او د هغوي پلویان ټول باید له هغو معیارونو سره سم چلند وکړي چې د افغانستان د اساسي قانون، د ټاکنو د قانون او ټولو هغو قواعدو او طرز العملونو سره برابروي چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا صادر شوي دي.

**ای ایف پي:** که چیرې یوناما په یوه ساحه کې په تحقیقاتو کې شریکه وي، موږ اوریدلی دي چې خلک د یوناما ټیم ته راغلي دي او خپلې کیسې یې ورته ویلي دي او اجازه یې نه درلوده څکه چې امنیتي شرایط خراب و چې د بالابلوک متاثره شوي کلی ته ولاړ شي. آیا دغه ټیم د تحقیقاتو یوه برخه وه چې د خلکو کیسی اوریدلی دي؟

**یوناما:** مهمه خبره دا ده چې موږ په دی پوه شو چې د افغانانو او نړیوالو نظامي قوتونو له خوا په ګډه سره خیرني رواني دي او په خپل وخت سره به د هغو نتیجې اعلان کړي. یوناما په فراه کې ځآیی چارواکو سره ته د مرستې وړاندیز وکړ. د دی مرستې د یوی برخې په توګه موږ په فراه کې یو وړوکی ټیم لرو. دوي په فراه کې له چارواکو سره په څیړنو کې مرسته کوو او له محلي خلکو سره د بیړنیو بشري مرستو په باره کې غور کوي. په دې مرحله کې موږ د ګډو تحقیقاتو د نتیجو راپور ته منتظر یو. او په عین زمان کې موږ نه غواړو چې د بې ځایه خبرو په ذریعه د خلکو په منځ کې ترسره او نا ارامي زیاته کړو.

**ایرنا:** په دې وروستیو وختونو کې د کیمیاوي وسلو د کارونې په اړه چې د نړیوالو ځواکونو له خوا ترسره شوي دي راپورونه راغلي دي چې د هغو په نتیجه کې یوه آته کلنه نجلۍ ډیره زیاته سوځیدلي ده. زه غواړم پوه شم چې د کیمیاوي وسلو په اړه د یوناما دریځ څه دی؟

**یوناما:** د کیمیاوي وسلو د مسلې په اړه موږ دغه ډول راپورنه اوریدلی دي، د پلټنې یو ځانګړی ټیم به دا پخپل راپور کې راوړي چې په فراه کې څه پیښ شول، تاسو دا تر مخه واوریدل چې د افغان ملکي وګړو د امنیت او سوکالۍ د موضوع پر اهمیت باندې ټینګار کیږي، چې باید د هر ډول عملیاتو د پلان کولو پر مهال په پام کې وي. دا جوته ده چې هغه وسلې او مهمات احتوا کوي چې کولای شي په ملکي ګړو یو غیره متناسبه اغیزه ولري. دا باید د پلټنې د ټیم د کار یوه مهمه برخه وي چې هغوي د نږدې څخه واقعیتونه وګوري. موږ دی ته اړتیا لرو چې د پلټنې د ټیم څخه واورو ، وړاندې تر دې چې د هغو د موندنو په اړه د وړاندې څخه قضاوت ولرو.

**بی بی سی:** یوناما د خپل پروګرام د لارې د سیلاب ځپلو کورنیو سره مرسته کوي. په دې وختونو کې چې د تخار په ولایت کې هغه لارې چې کلی د مرکز سره نښلوي ویجاړ شوي دي، تاسو هلته د مرستې څه پروګرام لرئ؟

**یوناما:** موږ د دې وړاندې وویل چې موږ د دغو سیمو څخه راپورنه او ارقام ترلاسه کړي دي چې د کنفرانس وروسته به یې تر لاسه کړئ.